مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۸/۲۵

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال

## پینځم توک

دوه سوه او یوشپیتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**شربت پوتي:** ــ ۳۰، ــ ۶۶: دا د «گواجهه» د شمال لویدیځ په ۶ مایلی کي د دښتي پر ژی باندي د کمپ یوه سیمه او د ځاهانو نوم دی. شربت د «غیبي زیو» (اڅکزیو) د قومي مشر نوم وو او د خپل وخت یو مشهور داړه مار او غل وو. د غیبي زیو کمپ په ژمي کي معمولاً ځاهانو سره وي. «پوتي» د شگو د غونډی لپاره معمول نوم دی.

د شربت پوتي د سویل ختیځ په تقریباً ۳ مایلی کي او په همدومره واټن د گواجهه لویدیځ کي یوه بله ځاه ده. دا ځای د اسمعیل زیو کاکوزیو «اڅکزیو» لپاره د ژمي د پاتي کیدلو ځای دی.

ویل سوي چي دا ځایونه د هیڅ کومي لاري پر سر نـهٔ دي واقع خو له قلات څخه تر کندهار پوري باید د ښوراوک د قافلي پر لاره وي. «میتلند»

* **شریف:** ۲۸ ــ ۳۳، ۳۸ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولایت کي د بمبلستان د شمال په تقریباً یو مایلی کي په «ناوهٔ باتور» کي یو کلی دی.

**شرق زي:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د کندهار د ختیځ په ۷۵ مایلی کي د ارغسان د سیند د یوې څانگې پر غاړې یو کلی دی. دا سیمه ډیره ښه کرل سوې ده او په شاو خوا گاوند کي ئـې ډیر او ښـهٔ کلي موقعیت لري. «لمسدن»

* **شرمنه:** ۱۷ ــ ۳۱، ۵ ــ ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کي د کدني د سیند د شمال په تقریباً ۶ مایلی کي د «کیله که» [1] په سیمه کي یو کلی دی.

[1] - Kelaka



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

* **شرتوغي**: ۴۱ ـــ ۳۲، ۲۷ ـــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د هلمند د سیند پر غاړې د دهراوډ د شمال په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

**شش برجه**: ۱۲ ـــ ۳۳، ۵۲ ـــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د بوم د ختیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې د تیرین د سیند سرچینې ته نیږدې یو کلی دی.

* **شش پر**: ۵۷ ـــ ۳۲، ۳۷ ـــ ۶۶ «ن»: دا د تیرین د سیند پرغاړه د روزګان د ولایت د روزګان د کلي د شمال لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

* شاویز: ۱۹ ـــ ۳۲، ۳۹ ـــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د ولایت په شمال کې د نیش په سویل ختیځ کې د شین غرۀ په شمال کې یو کلی دی.

* **شګه**: دا د کندهار په ولایت کې د یوۀ کلي او یوې ولسوالی نوم دی. دا ولسوالي ۲۹۶۱ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئې د وګړو شمیر د ۲۶۰۰۰ او ۳۷۹۲۵ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا ولسوالي په لویدیځ کې د پنجوایي، په شمال کې د ډنډ، په ختیځ کې د سپین بولدم او په سویل کې د ریګ او ښوراوک له ولسوالیو کې ګډه پوله لري. د شګې ولسوالي ۲۶ کلي لري چې ۱۵ کلي ئې تر ۵۰۰ تنو ډیر وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اخکزي | نورزي | | ښادي زي | | تخته پل | |
| حسن زي | قریـۀ نهر داري | | نهر سلیمان زي/ سلیمان زو نهر | | میل | |
| نائب والـۀ | امیر محمد خان کلی | | تورکاسي | Torekosai | سالاني زي | Salanizai |
| زعفران زي | علي زي | | خواجه زي | | بدي زي | |
| لښکرزي | پن زي | Panzai | ادو زي | Adozai | اتمانزي | Utmanzai |
| کاکوزي | لنډي | | باغ | | پوتکي | Potkai |
| بلوڅ | رارکي | Raraki | تندر | Tandar | خروټي | |

**شیګن ری**: ـ ۳۱، ـ ۶۷: دا یو کوتل دی چې د اوښانو د تګ لپاره سخت دی او له خجیر او پسین ډاګ څخه د بابکر تر څاهانو او د کند تر سیند پورې لاره د نخاس د غرونو له منځه ورڅخه تیریږي دا کوتل د خجیر د شمال په تقریباً ۴ مایلۍ کې موقعیت لري. «بن» *اوسنی نقشې د «شګنی» نوم په ۱۷ ـــ ۳۱، ۱۵ ـــ ۶۷ «ن» کې ښیي.*

* **شیخ**: وګورئ: شیخ

**شیخان**: وګورئ: شیخ خان

**شیخ چاله**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا په دوه وو برخو کې یو کلی دی «علیا او سفلی» چې دارغنداب د سیند پر کیڼې غاړې باندې د له بابا ولي ۱ ۲/۱ مایل پورته موقعیت لری. «بیسکو»

**شیخ خان**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: په دې نوم غر د «ارغسان لوړه» په کیڼې غاړې کې دی او تقریباً یو مایل کښته د سیند پر ښی غاړه سربلند کې واقع دی. له سربلند څخه تر ډبری پورې لاره په یوۀ مایل کې، په کیڼه غاړه کې کوز، له ښنتو جوړ د یوۀ زاړۀ برج له څنګه تیریږي او بیا سویل ته تاویږي او د شیخ خان د غرۀ له ختیځې انتها څخه اوړي. کوتل د ځای په مخالف لوري کې دي چې له سربلند څخه راغلې لاره د سربلند له سیند څخه تیریږي؛ بریډمن مسې وايي چې " د سپارۀ ځواک بار کچرې او آسونه" باید له دې لارې تیر سي او ظاهراً غواړي چې د ښنتو له پلـۀ څخه چې پورته ئې یادونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

وسوه او د غرۀ تر منځ د کرکیلي او پټیو له منځه له تیریدلو ځخه اجتناب وکړي په ځانګړي توګه کله چې پټي اوبـۀ سوي او ځمکه خړوبه وي، " چي دا حالت د عرابه لرونکو وسایطو او بار وړونکو اوښانو د تګ لپاره لاره سختوي."

د شیخ خان له غرۀ ځخه له وچ بر غوبرک سره او د «تګک» له کوتل سره او له هغۀ ځایه له کندهار سره د هیلوګرافي اړیکه ټینګیدای سي. «مسي» *په دې نوم یو کلی چې د شیخان په ډول لیکل کیږي په ۸ – ۳۰، ۹ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**شیخ خان**: یا شیخان: ــ ۳۲، ــ ۶۶: دا د ارغنداب په دره د میزان د ولسوالی کې یوه علاقه ده. دا حاصلخیزه او تولیدي علاقه ده. «بیسکو»

* **شیخ میران**: ۳ – ۳۴، ۱۴ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «سیان دره»[2] د تلاقي ټکي ته نیږدې د یوۀ سیند پر غاړې یو کلی دی.

**شیخ زي**: دا د دراني علي زیو یوه څانګه ده. «بیسکو» *په دې نوم نور کلي د شوراوک په لویدیځ کې په ۱۰ – ۳۰، ۴ – ۶۶ «ن» او ۱۱ – ۳۰، ۶ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

* **شن غالي کلی**: [3]: ۱۰ – ۳۲، ۵۳ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د «کلا» د شمال ختیځ په تقریباً ۱ مایلی کې د قلات د شمال په تقریباً ۶ مایلی کې یو کلی دی.

**شیر: ــ** ۳۱، ــ ۶۶: دا د کشوبي «خوړي اوبـۀ -ژ» په دره کې یو کلی دی. «کلیفرډ»

* **شیربولک**: ۲۲ – ۳۱، ۴۱ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «نارین غر» [4] په لویدیځ کې د «کدني» او د ارغسان د سیندونو تر منځ یو کلی دی.

**شیرا دین**: شیر الدین: دا د «خاکرک» (خاکریز – ژ) په دره کې یو کلی دی. «لینس»

**شیر احمد: ــ** ۳۱، ــ ۶۵: شیر احمد او فقیران دوه کوچني کلي دي چې خلک په کې یوازې د کال یوه برخه تیروي، دا خلک د بیلابیلو قومونو د ګرځندو قبیلو وګړي دي چې خپل پسرلنی کښت کوي او په تودې هوا کې له دې ځایه وځي. دا کلي د ارغنداب د سیند پر ښی غاړه د کوهکران په مقابل لور کې واقع دي. «بیسکو»

**شیر اوبـۀ**: دا د بلوخ پر پوله د ۱۱ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي، ۱۹۰۵» *په دې نوم یو کلی په ۵۹ – ۳۰، ۳۳ – ۶۶ «الف» کې موقعیت لري. وګورئ: شیری اوبـۀ*

**شیرباد: ــ** ۳۱، ــ ۶۶: دا یو کلی دی چې له قلات غلزایي ځخه د ارغسان د درې او کندهار تر منځ د لارې په دوهم منزل کې د قلعـۀ خانان او د اکرم خان د کمپ د سیمو تر منځ واقع دی. د برتانیي د پوځ یوۀ کتار د ۱۸۷۹ز کال د جنوری د میاشتي په پای کې له دې ځایه پریمانه غلات تر لاسه کړل، خو پسونه ئي نـۀ درلودل. «آی. بي.سي.»

**شیرباد**: ۳ – ۳۲، ۵۱ – ۶۶: دا د ترنک په کینه غاړه کې له قلات غلزایي ۵ مایله کښته یو کلی دی. د اړتیا وړ توکي دلته پریمانه دي. «پرایر»

**شیردل: ــ** ۳۱ ، ــ ۶۵: دا د خاکریز په دره کې یو کلی دی. «لینس»

---

[2] - Siandara

[3] - SHENGHALI KALAY: ددې نامـۀ د انګلیسي بڼي مخي ته ئي په عربي الفبا «شنګلی کلی» لیکلي دي حال دا چې سمه بڼه ئـي «شن غالي» یا «شین غالي» باید وي. - ژ

[4] -Narin Ghar


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ

**شیرگاه:** ۵۷ ـ ۳۱، ۳۰ ـ ۶۵: دا د الکوزیو د ۲۰ کورونو یو کلی دی چې د خاکریز د درې په مرکز کې واقع او پریمانه خړوبه ځمکه لري او د شاه مقصود له زیارت څخه تقریباً ۳ مایله لیرې دی. دا کلی، د سلیم د کاریز له لارې له کندهار څخه د راغلي لارې پرغاړې له لالک څخه ۱۲ مایله پورته واقع دی؛ دا لاره هغې نالي ته ورغلې ده چې د اساسي درې د اوبو د راټولولو کرښه جوړوي. همدا شان دا لاره د درز آب له کوتل سره نښتي ده چې د هغهٔ سړک له لارې فتح خان ته ځي چې د «ګندا» [5] تر سرلیک لاندې شرحه سوی دی. «لینس، آی. بي. سي.»

**شیرګشتون:** دا د بلوڅ پر پولې یو ځای دی او همدلته د ۲۴ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي.، ۱۹۰۵»

**شیرو اوبـهٔ:** شیر اوبـهٔ: ۵۹ ـ ۳۰ ، ۳۳ ـ ۶۶ «ن»: دا د چمن د شمال په تقریباً ۱۰ مایلی کې د خواجه عمران د غرنی لړی په لویدیځو ډډو کې یو ځای دی. دلته د غرهٔ په لمن کې د اوبو دوې چینې دي چې د «شیر اوبـهٔ» د ویالې لپاره د پریمانو اوبو سرچینې دي؛ یوه چینه د شیر اوبـهٔ د نالي په خولې کې هغـهٔ ځای کې ده چې له مارغه چمن څخه لاره د غرونو په لمنو کې ورباندې راغلې او د «سینا» [6] تر کوتلونو پورې تللې ده؛ بل چینه تقریباً ۴/۳ مایله پورته د همدې نالي په اوږدو کې ده. ویل سوي چې لومړنی چینه، اساسي چینه ده، خو دویمه چې له نالي پورته ده د نالي بستر ته له دوه وو ځایونو اوبـهٔ غورځوي. د اوبو د بهیدلو چټکوالی پیاوړی دی او ویل سوي چې اوبـهٔ ئې ټول کال وي. د دې نالي اوبـهٔ په ډیر لنډ واټن کې د نوررزیو د ځمکو د خړوبولو لپاره راګرځول سوي دي. د کوزنی چینې لوړوالی ۵۳۰۰ فیته دی. «بن»

*اوسنی نقشې د شیرو اوبـهٔ نوم نښیي.*

* **شیرجان اکا:** [7] :۵۷ ـ ۳۱، ۳ ـ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د نجم الدین د سویل په تقریباً ۱ مایلی کې د ارغنداب د سیند پرغاړه یو کلی دی.

**شیرکلی:** ۱۶ ـ ۳۱، ۵۷ ـ ۶۵ «ن»: دا له نوي چمن څخه تر کندهار پورې د سړک د لویدیځ په ۲ مایلی کې یو کلی دی، دا کلی په هغـهٔ ټکي کې واقع دی چې سړک د سیف الله د کنډوالو له څنګه تیرېږي. د دې ځای استوګن وګړي په دې دلیل له دې سیمي خوښ نـهٔ ول چې مسافرینو به تل تنګول نو له دې کبله دوی د سړک له غاړې لیرې د بشر کلي ته کډه سول. «بومي معلومات، ۱۹۰۵»

**شیرخان:** ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا له قلات غلزایي څخه ۲۹ مایله لیرې د هغـهٔ سړک پر غاړې یو کلی دی چې د قلعهٔ خانان او اکرم خان د کلیو له منځه په تیریدلو د ارغسان درې او کندهار ته تللی دی. د کشف هغه قطعه چې د ۱۹۷۲ز کال (؟ - زه داډه یم چې په دې نیټي کې تیروتنه سوې ده - ژ) د جنورۍ په میاشت کې په دغهٔ سړک تللې وه وایي چې دلته د کمپ سیمه او اوبـهٔ ښې وې. له پسونو پرته نور د اړتیا وړ توکي په کې پریمانه ول خو د اوښانو څرځایونه په کې ډیر لږ ول. «آی.بي. سي.» د *«شیرخان ناور» په نوم کلی په ۴۸ ـ ۳۰، ۴۰ ـ ۶۴ «الف» کې موقعیت لري.*

* **شیرخانه:** ۷ ـ ۳۳، ۳۳ ـ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د کجران په سویل ختیځ کې د «سخر» د سیند پر غاړې یو کلی دی.

---

5 -Gunda

6 -Sina passes

7 - SHERJAN AKA: د همدې نامهٔ مخ ته ئې په عربي الفباء «شیر جان آقا» لیکلي دي حال دا چې دا شیر جان اکا دی. - ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**شیر محمد:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د ترنک په درې کې یو کلی دی، دا کلی د همدې کلي د مالک یا څښتن په نوم یادیږي، دې کلي کې د ۱۸۷۹ز کال د فبروری په میاشت کې د کندهار د برتانوي قطعاتو صحرايي ځواک له جلدک څخه د لنډ مارش له کولو وروسته دمه وکړه؛ دا ځواک له قلات غلزايي څخه بیرته د کندهار پر لور روان وو. دا ځواک دلته ځکه دمه وکړه چې د فبروری د میاشتې له درییمې تر اوومې نیټې پورې دواړه هم واوره او هم شدید باران ورېدۀ، دغۀ ځواک په ډیرې سړې هوا کې خپل ډیرې اوښان له لاسه ورکړل، خو د دمې نیولو ځای دغۀ ځواک ته هوساینه ورکړه او له ګاونډیو کلیو څخه د دوه یا درې ورځو لپاره د اړتیا وړ توکي راټول سول. «آی. بي. سي.»

**شیرنک:** شیرینک: دا د خاکریز په درې کې یو کلی دی. «لینس» *اوسنی نقشې د شیرینک نوم په ۵۴ ــ ۳۱، ۲۲ ــ ۶۵ «ن» کې ښيي.*

**شیر سرخ:** ۳۴ ــ ۳۱، ۴۰ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د شکارپور دروازې د سویل په ۲ مایلی کې یو کلی دی.

دا کلی د هغۀ نهر په پای کې پیل کیږي چې د نهر اوبۀ ئې اکثراً تر دې ځایه پورې نۀ رارسیږي، د دې ځای وګړي ډیر بې وزلي او غریب دي او خلک ئې تل مدام بدلیږي او کډه کیږي. «بیسکو»

**شیرو:** وګورئ: شیرو

**شیراب:** شروب: ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د چمن – کندهار د سړک په شمال کې د کدني د درې یوه برخه ده. «کلیفرډ»

**شیرزي:** دا د بارکزیو د قبیلې یوه څانګه ده. «بیسکو»

**شیبیان کوتل:** ۳۵ ــ ۲۹ ، ۳۴ ــ ۶۴ «الف» دا د «ملک نارو» [8] د غرنی لړې په لویدیځ کې د افغان – بلوڅ پر پوله په ۱۶۱ستني کې یو کوتل دی. له دې کوتل څخه له «چګي» [9] څخه تر شاه اسمعیل پورې لاره تیریږي چې له شاه اسمعیل څخه سویل ختیځ لور کې ۱۲ مایله لیرې واتن لري.

د فراه او کندهار ولایتونه په همدې ټکي کې سره کربنه ګډوي.

**شلي کچ:** وګورئ: سلي کچ

**شین بند:** دا د عطاء محمد د کلا په شمال کې یوه کوچنۍ دښته ده چې اوبۀ ئې په همدې نامۀ یوه ناله راټولوي. دا دښته د متاخان توخي غلزیو قبیلې ډیره ښه کرلې ده. *په دې نوم یو کوتل په ۵۴ ــ ۳۲، ۲۹ ــ ۶۶ «الف» کې موقعیت لري.*

**شینګالون:** دا د بلوڅ پر پوله د ۱۱ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

**شینیه کوره:** ــ ۳۱،ــ ۶۵: دا د شاه مقصود د لړې یوه غرنۍ ځوکه ده.

* **شینکی:** ۵۸ ــ ۳۱، ۲۲ ــ ۶۷ «ن»: شینکی د زابل په ولایت کې د یوۀ کلي او یوې ولسوالی نوم دی. دا ولسوالي ۲۲۴۸ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئې د وګړو شمیر د ۴۷۴۰ او ۷۱۹۶ تنو تر منځ اټکل کړی دی. دا ولسوالي په لویدیځ کې د جلدک، په شمال کې د قلات او شاه جوی، په ختیځ کې د ناوې او شملزیو او په سویل کې د اتغر، معروف او ارغسان له ولسوالیو سره کربنه لري. د شینکی ولسوالی ۱۵۱ کلي لري او هیڅ کلی ئې له ۵۰۰ ډیر وګړي نۀ لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

---

[8] - Malik Naru

[9] -Chagai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سدو کلا | | سدو خان کلا | | Mandin Khel | مدين خيل | گرديان | |
| وسطي | | عيني | | قلعـهٔ کهنه | | نوزاد | |
| Shahu Khel | شاهو خيل | Tanzai Khe | تنزي خيل | شاه علم خيل | | Narai Toye | ناري توی |
| تنگي – ی - روغاني | | قلندر خيل | | Sawut Khel | ساووت خيل | Shahut Khel | شاهوت خيل |
| شهباز خيل | | بند – ی - روغاني | | پيتاب – ی- روغاني | | يوسف خيل | |
| Ghalai Saway | | | غالي ساوي | Makhi Khord (Mazi Khord) | ماخي خورد «مازي خورد» | Baddin | بادين |
| غوري | | داب | | روغاني | | تنگي نيکان | |
| Isyuzi | ايسو زي | لندي | | Landi Sazai | لندي سازي | Pala Tui | پالـه توی |
| وچ کلی | | اشرف خيل | | شينکي | | کاريز ساوي | |
| زيارت-ی- تونزي | | Hamzala Khel, | حمزله خيل | Kala -i -Payu Khan (Bahu Khan) | قلعـهٔ پايو خان «باهو خان» | Giru | گيرو |
| سفيدار | | Wachakai | وچکی | Sohi, | سوهي | Nazai | نازي |
| Shabil -i- Kalan | شابيل کلان | Gali | گالي | Gala Shapa Bil- i- Kalan | گله شاپه بيل – ی - کلان | Pangi Omarzai | پنگي عمرزي |
| Malizai | مالي زي | Kharuj | خروج | Boragai | بوراگي | قلعـهٔ اعظم | |
| Mundab | مُنداب | بولان | | Shir Dehan | شير دِهان | Sherahi Bolan | شيراهي بولان |
| پوتي | | Jawara (Zowara) | جَوره «زووره» [ژوره –ژ] | Zowara Poti | زووره پوتي | شابيل خورد | |
| Luta | لوته | Khowala | خوالـه | Tawshalai (Tawshala) | تاوشالي «تو شالـه» | Kalo Khel | کالو خيل |
| آخوند زاده خيل | | Garabandah | گرا بنده | Gurjai, | گورجي | Pungai | پنگي |
| آخوند خيل | | هوشيان | | Hushiyan wa Akhund Khel | هوشيان و آخوند خيل | شيله | |
| Khuni | خوني | Padah | پاده | Khosha | خوشه | فتح الله خيل | |
| Luwalgai, | لوارگي | ملايان | | Sur Kan | سورکن | احمد شاه خيل | |
| عمرزي | | محمد حسين | | قريـهٔ باهو | | گزک | |
| Sarban Khel - i- Negar | ساربان خيل نگار | Tagali | تگالي | نگار | | Sarban Khel ښايي سربن خيل وي ژ - | ساربان خيل |
| Naturi wa Kaj Kandan | ناتوري و کج کندان | Mamu | مامو | ساربان خيل «تکرار راغلی- ژ» | | تگالي «تکرار راغلی – ژ» | |
| لعل محمد | | قلعـهٔ غفار خان | | Kandan | کندان | Ore Kaj | اور کج |
| Mik Mohammad Khel | ميک محمد خيل «نيک محمد خيل – ژ» | شادي | | Ghazgai Ba Ali | غزگي با علي | اکازي | |
| سيد گل | | نيک نظر | | ضياء الدين | | Danika | دانيکا |
| قريـهٔ لال «لعل – ژ» | | Kalan Makhi (Razi Kalan) | ماخي کلان «رازي کلان» | فيض الله خيل | | Kito Mandah | کيتو مانده |
| مادو و قلعـهٔ خان | | شور کلان «شور – ی – کلان» | | ديوالک | | جوگيان | |
| Lowala Khoni | خوني لواره | شير محمد خيل | | Karori | کروري | پنبه | |
| بيله لواره | | Kharanai | خاراني | شيله محمد دين | | وزير لواره | |
| سلام خيل «سلام خان کلی» | | محمد کريم خيل | | Pato Khel (Fato Khel) | پاتو خيل «فاتو خيل» | چينه «چشمـهٔ آدم» | |
| Karya-i-Badogan (Badozan) | قريـهٔ بادوگان «بادوزان» | Sawai Gorbat | گوربت ساوي | مسلم زي | | قريـهٔ پاينده خيل | |
| شيله پيزوان | | کيتو لواره | | Ajani (Hajani) | آجانی «حاجانی» | خدايداد | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شور – ی- خورد | | قریـۀ سید مـحمد آخوندزاده ساوي | | | | تون زي ساوي | |
| باز محمد | | قنات طاهر | | تره کي تنګي | | چینه | |
| Dawi Gar | داوي ګر | شیرو | | قناتِ عبدالرحیم | | قناتِ عبدالحمید | |
| مانه لوارِه | | ډنډ لوارِه | | چشمـۀ بنډِ کاجل | | چشمـۀ دو راه | |
| Gharai, | غري/ غاري | Ghwaji Sawai | غواجي ساوي | Tamut Khel Sawai | تاموت خیل ساوي | Sorakai Ghash | سورَکی غاښ |
| Zelzela Khel | زلزله خیل | علاء الدین - ژ | علا دین | Shilzai | شیل زي | Lowar Khurdah, | لوارِ خورده |
| شیلـۀ افضل | | Darkari | در کاري | شاهي کلان | | Pungi Yolan | پنګي یولان |
| Haji Mina | حاجي مینه | Mazi | مازي | Sarkai | سرکي | Shila-i-Raksan | شیلـۀ رکسان |
| | | | | | | Begi | بیګي |

**شینکی کوره**: دا د بلوخ پر پوله د ۱۱ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی.بي. سي. ۱۹۰۵» *په دې نامـۀ یو شمیر نور کلي هم سته چي په دغو ځایونو کي موقعیت لري: ۵۱ -۳۰، ۱۷ – ۶۶ «ن»، ۵۷ – ۳۱، ۲۶ – ۶۷ «الف»، ۴۷ – ۳۲، ۳۷ – ۶۷ «الف» او ۵ – ۳۲، ۳۷ – ۶۷ «الف»*

* **شینکی شار**: ۸ – ۳۲، ۱۶ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کي  د دوه وو سیندونو د یو ځای کیدني د ټکي د شمال په تقریباً ۱ مایلی کي د ارغنداب د سیند د یوې ښانګي پر غاړې یو کلی دی.

* **شین خیل**: ۲۴ – ۳۱، ۵ – ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کي د سندرزیو په لویدیځ کي د ټلثون د سیند پرغاړه یو کلی دی.

**شیر راه: شیروح**: ۵۴ – ۳۱، ۵۱ – ۶۶ «ن»: دا د خشک رود په دري کي یو کلی دی، دا کلی د هوتکو په سیمي کي د سلام له کلا ۱۲ مایله ورهاخوا د ترنک د سیند پر کیڼي غاړې باندي تر غزني پورې ، «پمبي» [10] ته د تللي سرک پر غاړې واقع دی. د ۱۸۸۰ز کال د اپریل د میاشتي په اتمي نیټي د جنرل بارتر لیوا چي همدلته ئـې دمه کړي وه له دې د اړتیا وړ توکي راټول کړل خو پر دغو موادو نور ضمیمه مواد هم ورزیات سول چي د خوارک توکو ډلي راټول کړي ول دوی ۶۰ مونده غلات او ۸۰ مونده بهوسه د «بادو» له کلي راټوله کړي وه چي د «سلام د کلا» پر لور ۲/۱ مایله لیري ده. تر «پمبي» پورې واټن چي د غزني پر لور راټلونکی مارش دی ۲/۱ ۱۴ مایله دی. له «پمبي» ښخه تر قلات غلزایي پورې د هیلوګرافی له لارې پیام لیږل کیدای سي. «کلیفرډ» *اوسنی نقشي د «شیروح د کلي» نوم ښیي. په دې نوم بل کلی په ۲۳ – ۳۱، ۲۱ - ۶۷ «ن» کي موقعیت لري.*

## نور بیا

**شیراني**: دا د ښوراوک

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

10 -Pumba


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ